**بسم الله الرحمن الرحيم**

## محی الدين کبيري او د تاجکستان راتلونکې



د تاجکستان د اسلامي نهضت ګوند(IRPT) مشر محي الدين کبيري يو ځلې بيا تاييد کړه، چې ګوند يې د سيکولريزم له افکارو سره جوړ راتلی شي. دی په دې باور دی چې تاجکستان بايد يو سيکولر دولت وي او دين بايد له دولت او ژوند څخه بېل شي. ده په يوه مرکه کې ژورناليستې انا سوسليکايا ته چې له Fergana.ru معلوماتي ادارې سره کار کوي ووېل: «د تاجکستان راتلونکې بايد څه ډول وي؟ موږ څه ډول دولت غواړو؟ ټول په دې خوښ دي چې تاجکستان بايد په ريښتنې توګه ديموکرات، پر قانون ولاړ او يو سيکولر دولت ولري». دا لومړی ځل نه دی چې محی الدين کبيري دا ډول څرګندونې کوي، بلکې مخکې هم په وار وار د هيواد د سيکولر راتلونکې په اړه غږېدلی دی.

بايد يادونه وشي چې د تاجکستان د اسلامي نهضت د زېږيدنې تاريخ د تېرې پېړۍ ۷۰ يمو لسيزو ته ورګرځي او دا هغه مهال و، چې شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا خلک تر خپل ښکېلاک لاندې راوستي وو. ګوند د ځوانانو د خوځښت په اډانه کې را وټوکېد - «نهضت اسلام» يانې د اسلام بيا را ژوندي کول، چې هغه مهال يې په اشغال شوي تاجکستان کې شتون غير قانوني اعلان شو. د شوري اتحاد د سختې الحادي بندست پالنې تر سيورې لاندې د دې ګوند بنسټ ايښودنکو، لکه سيد عبدالله نوري دوې موخې وټاکلې؛ د اسلام سوچه افکارو خپرول او

خلکو ته د مذهبي روحيې ورکول. کله چې دغه گوند په ۱۹۹۱م کې په تاجکستان کې رسمیت واخیست، د دې گوند ډېر غړي او ملاتړ کوونکي هغه مهال په زندانونو کې وو. د نویمې لسیزې په لمړیو کې دغه گوند په ډاگه د تاجکستان دولتي نظام او خلکو په اړه خپله اسلامي نظریه په ورایه څرگندوله او شاوخوا ټولو ملاتړو یې د دې نظریې ملاتړ کاوه. بیا له «کورنۍ جگړې» وروسته، چې د تاجکستان د دولت او د تاجکستان متحد اپوزیسیون تر منځ د سولې د یوې هوکړې په لاس لیک سره پای ته ورسېده او د تاجکستان اسلامي نهضت گوند هم د یاد اپوزیسیون غړی و. دې گوند په پارلماني ټاکنو کې ونډه واخیسته او څو څوکۍ یې په پارلمان کې ترلاسه کړې.

په دې ډول، دا گوند له خپل اصلي دریځ څخه پر شا شو. خو له دې سره سره بیا هم د تاجکستان خلکو پر اسلامي نهضت گوند باندې ډېر باور درلود او ملاتړ یې کاوه، ځکه د دې گوند له نوم له سره اسلام تړلی دی. څو ځله د گوند مشرتابه د دولت د هغو پرېکړو ملاتړ کړی چې پر بېلابېلو اسلامي حرکتونو او گوندو یې د فشار راوړلو لپاره کړي. د بېلگې په ډول د ۲۰۰۵م په فبرورۍ کې محی الدین کبیري د جنگ او سولې راپور ورکولو انستیټوټ ته وویل: «په تاجکستان کې مخکې له مخکې ا سلامي گوند شتون لري او دې ډول بل گوند ته اړتیا نه شته». عبدالله نوري د تاجکستان اسلامي نهضت گوند مشر ـ له نهضت ورځپاڼې سره په مرکه کې دا نظر څرگند کړ: «د تاجکستان ا سلامي نهضت گوند په دې باور دی، چې د نړیوالې ټولنې د دیموکراتیکې آزادیگانو منل له اسلامي افکارو او احکامو سره په ټکر کې نه دي. کبیري همدا راز ویلي:« دا د پلي کېدو وړ نه ده چې حزب التحریر په دیموکراتیکه بڼه جوړ شوی دولت ردوي او یو «غربي پدیده» یې گڼي او د دې ملاتړ کوي ترڅو نړیوال اسلامي خلافت جوړ شي.

ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«الْمُؤْمِنُ مِرْآةُ الْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ مِنْ حَيْثُ لَقِيَهُ يَكُفُّ عَلَيْهِ ضَيْعَتَهُ وَيَحُوطُهُ مِنْ وَرَائِهِ»**

*ژباړه: یو مومن د بل مومن لپاره هنداره ده، یو مومن د بل مومن ورور دی. دی باید هغه ته ضرر ونه رسوي او خامخا باید د هغه له شا نه د هغه ساتنه وکړي.*

یوه هنداره یو شي ته په هغه ډول انعکاس ورکوي لکه څه رنگه چې هغه شی ښکاري، کوم عیب او نقص نه پټوي او دغه راز د هماغه شي په ښایست کې کمی هم نه راولي. د هندارې لپاره ټول انعکاسونه یو ډول دي. هنداره د چا لوری نه نیسي او د چا په غوسه کېدلو سره هغه نه شي ساتلای. د هندارې لپاره هر څه یو ډول دي. په هنداره کې د شتمن او بې وزله، ځوان او بوډا، ښکلو او نورو لپاره بېلې برخې نه شته. د هندارې دنده همدا ده، چې هر څه ته یو ډول انعکاس ورکړي.

مسلمان باید په هر حالت کې یو ډول وي. دی باید د خلکو سره په راکړه ورکړه کې د چا لوری ونه نیسي او له هر چا سره باید ریښتنی او مخلص وي. د پورته حدیث او همداراز د شریعت د نورو احکامو په رڼا کې دا اړینه ده چې د تاجکستان اسلامي نهضت او نورو وروڼو تېروتنې په نښه شي او دوی هغې لارې ته سم شي چې الله سبحانه تعالی د هغه رسول صلی الله علیه وسلم او مومنان پرې خوښ دي.

نن ورځ لوېدیځ د خپلو ځانګړو ګټو لپاره په کمه کچه د تاجکستان پر رژیم ځینې فشارونه اچوي، ترڅو د روسیې نفوذ تر سوال لاندې راولي او دې چارې د تاجکستان د اسلامي نهضت مشرانو ته پناه ځای برابر کړی او بهرنیان له دې لارې پر دوی خپل شرطونه تپي. کبیري د لوېدیځ پر ژمنو باور لري او هیله من دی چې دا ډول شرطونه به پوره کړي، خو کله چې لوېدیځ خپلو موخو ته ورسېږي او د تاجکستان له اسلامي نهضت سره ګډ کار کول ورته بې ګټې وبرېښي، نو تاسو به ډېر ژر شا ته پرېږدي، لکه څرنګه چې ورته کړنه یې له نورو ګوندونو او حرکتونو سره پخوا هم کړې، لکه له اخوان المسلین ګوند سره. سیکولریزم او اسلام په مطلق ډول یو له بل سره اړخ نه لګوي او یو له بل سره په ټکر کې دي. اسلام غوښتنه لري چې د ژوند ټول نظامونه دې د خالق له احکامو سره همږغي شي، خو سیکولریزم دین په ټولنه کې له ژوند او دولت څخه بېلوي.

اسلام موږ ته له عقیدې او شرعي حکمونو سره یو ځای را لېږل شوی دی او اړتیا نه لیدل کېږي چې د وخت په تېرېدو سره یې د بشپړتیا لپاره هڅه وشي او یا  له سره پرې غور وشي او دا هم د منلو وړ نه ده چې شرعي قانون د له واقعیتونو سره تعدیل شي. دا د پېغمبر صلی الله علیه وسلم تګلاره نه ده، نه هم د صحابه وو، نه هم د تابعینو او تبع تابعینو او نه هم زموږ د رېښتینو امامانو لکه؛ سلمان فارسي، بخاري، ابو حنیفه او نورو....

الله سبحانه تعالی فرمایي:

**﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينً﴾**

[المائده:۳]

*ژباړه: نن ما ستاسو لپاره دین  بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسو پوره کړ او ستاسو لپاره مې اسلام ستاسي د دین په توګه غوره کړ.*

همداراز الله سبحانه تعالی فرمایي:

**﴿وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾**

[البقره:۱۲۰]

*ژباړه: یهودان او عیسویان به هیڅکله له تا څخه خوشحاله نه شي، تر څو ته د هغوی په لاره (دین) لاړ نه شې. دوی ته په کلکه ووایه چې سمه لاره یوازې هماغه ده چې الله سبحانه تعالی ښودلې ده. او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درکړای شوی دی، د هغو په غوښتنو پسې ولاړ شې؛ نو ستا هیڅ دوست او مرستندوی نشته چې د الله له نیونې څخه د وژغوري.*

موږ له محی الدین کبیري څخه  په کلکه غوښتنه کوو، چې د لوېدیځ بېلا بېلو ژمنو ته سر ټیټ نه کړي او اسلام واقعیت ته ور ټېل نه وهي. موږ غواړو چې دی خپل اساس او بنسټ ته را وګرځي، چې هغه د اسلامي افکارو خپرول او خلک د اسلام په زده کړو پوهول دي او دا ټول یوازې هغه مهال شوني دي چې اسلام ژوند ته را وګرځي او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم له تګلارې سره سم په ژمنتیا سره ترسره شي. ستر څښتن الله سبحانه تعالی به په هغه سره راضي شي او الله سبحانه تعالی دې موږ ټول سمې لارې ته هدایت کړي.

**له الرایه جریدې  څخه اخیستل شوی**

**لیکوال: فردوس صالح زاده**

**ژباړن: عبدالله لطفي**